د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد
AREU
۱۴ کاله باکیفیته څېړنه

# نارینه او "نارینتوب" ته یوه ژوره کتنه:
# په جنسیتي برابروالي کې د دوی فعاله مرسته

غبرګولی ۱۳۹۴
لیا ویلفریداری پیلانګو، چونا آر. اچاویز، پرویز طفیل او سید مهدي موسوي

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد (AREU) او د افغانستان لپاره د سویډن کمېټې (SCA) یوه ګډه څېړنه ترسره کړه، ترڅو په دې اړه، چې په افغانستان کې نارینتوب موضوع ته څرنګه رسېدنه وشي، د پالیسۍ او عملي اقداماتو په برخه کې معلومات وړاندې کړي. نارینتوب داسې تعریف شوی، چې خلک د نارینه وو په اړه څرنګه پېژندنه او پوهاوی لري. د دغې څېړنې تولیزه موخه او هدف په افغانستان کې د نرینه والي په تړاو د بېلابېلو او متعددو مفاهیمو پېژندنه او همدارنګه د دې مسلې درک دی، چې دغه مفاهیم څرنګه د جنسیتي نابرابروالي له رامنځته کېدو سره مرسته کوي. څېړنې د هلکانو او نارینه وو ونډې، برابروالي، واک او کنټرول او د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي ته رسېدنه کړې، چې په جنسیتي برابروالي پورې اړوند نارینتوب، او سولې او ټیکاو د پرمختیا په برخه کې اغېزمن لیدلوري دي.

د دې اړتیا شته، چې د ښځو او نجونو لپاره په دواړو کورنۍ او ټولنیزو برخو کې د فرصتونو نابرابروالي ته رسېدنه وشي. افغانستان د ملګرو ملتونو د ۱۹۳ غړو هېوادونو د یو غړي په توګه مکلف دی، چې داسې پیاوړي پلانونه او پالیسۍ طرحې کړي، چې د ښځو او ماشومانو د ژوند د ښه والي لامل شي.

افغانستان د نارینتوب او ښځینه توب په تړاو هغه تعریف ساتلی، چې له یو نسل څخه بل نسل ته لېږدول کېږي. د افغان ښځو او نجونو په وړاندې او سني ګواښونه د هغو دودیزو کړنلارو په جوړښت کې رامنځته کېږي، چې دوی ځپي او د تاوتریخوالي په وړاندې یې زیانمنونکې ګرځوي. د جنسیت د پراختیا پر بنسټ، په افغانستان کې له پرمختیايي پالیسۍ جوړونو سره سره، جنسیتي ناانډولي لکه زده کړې، روغتیایي خدمتونو او دندو ته د لاسرسي په برخه کې ناانډولي، په عمل کې دوام لري. دغه پالیسۍ جوړونې لا هم له نویو ترسره شویو څېړنو څخه د کاراخیستنې او پلیتابه په برخه کې ناکامې شوې، د څېړنو دغه نوی ډول، د جنسیتي برابروالي د دودولو په پروګرامونو کې او د جنسیت پر بنسټ ولاړو تاوتریخوالو څخه د مخنیوي په برخه کې، د هلکانو او نارینه وو د برخه اخیستنې ګټې او اغېزمنتیا جوتوي. جنسیتي برابروالی، لکه څرنګه چې د افغانستان د پاېښت لرونکې پرمختیا په اهدافو SDG کې پنځم هدف ورته ښکاره اشاره لري – جنسیتي برابروالی او ځواکمنتیا ته د ټولو ښځو او نجونو لاسرسی- او په نورو هدفونو کې هم ترې یادونه شوې، د ټولیزې روغتیا او پرمختیا لپاره مخکې له مخکې یوه اړتیا او په پایله کې یو اقتصادي محرک دی.

او سمهال، د نجونو او ښځو په وړاندې د پراخ تبعیض او تاوتریخوالي په تړاو د افغانستان په ټولنه کې د نه منلو وړ چوپتیا شتون لري. همداسې یو انځور د دغې څېړنې موندنې هم وړاندې کوي، چې یو زیات شمېر ښځې د دودونو پربنسټ ولاړ د نارینه وو له خوا ترسره کېدونکي تاوتریخوالي منلې دي. دا د دې ښودنه کوي، چې دغه انګېرنې څومره ژورې ریښې لري او همدا راز پر ځېل نفس او عزت د باور په تړاو د هغه رول په اړه د ښځو او نجونو د پوهاوي کچې د زیاتېدو ارزښت په ډاګه کوي، چې دوی یې لوبولی شي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) او د ملګرو ملتونو د بشر حقوقو د عالي کمیشنر د دفتر د راپور له مخې، په دې برخه کې چوپتیا له هغو کسانو څخه د ملاتړ په معنا ده، چې هوډ لري، د کوردننه چارو کې د ښځو په محدودولو او په ژوندانه کې هغوی ته د ټیټ ارزښت په منلو سره، ځېل واک او اقتدار وساتي، سربېره پر دې، دا د هغه نظام او سیستم د تایید او ترې د ملاتړ په معنا ده، چې د ښځو په وړاندې پر تاوتریخوالو سترګې پټوي.[1]

*چوپتیا یعنې د هغو ښځو د بوازې پرېښودلو په معنا ده، چې د افغانستان په ټولنه کې د ښځو د فعالې ونډې د لوبولو او د ښځو د حقونو د پرمختګ لپاره په شعوري توګه ګواښونه مني!*

د افغان نارینتوب پراختیا د دې اړتیا رامنځته کوي، چې پر ځېل ځان د نارینتوب د اغېزو د څرنګوالي او همدارنګه د ښځو پر ژوندانه یې د پایلو په اړه بحثونو کې هلکان او نارینه وو ته ونډه ورکړل شي. دا د نارینه وو مسوولیت دی، چې په موجود پاراډایم کې بدلون رامنځته کړي او د «دودیز نارینتوب» د ټولیز او هر اړخیز منلو په تړاو، چې په دوی کې اخښل شوی، یو بل تر پوښتنې لاندې راولي، وننګوي او دغه دود او دستور مات کړي. له دغه ډول بحث پرته، چوپتیا د رضایت او ملګرتیا په معنا ده؛ که نارینه د «ستونزې» یوه برخه ده، د دغې ستونزې د «حل لارې» یوه برخه هم ده. همداسې یو بحث، په سیمه کې پیل شوی، خو د دې اړتیا شته، چې زیات بریالیتوبونه ترلاسه شي او پراختیا ومومي، او البته باید د حکومت د پالیسي جوړونې له ملاتړ څخه هم برخمن وي.[2]

---

۱ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) او د ملګرو ملتونو د بشر حقوقو د عالي کمیشنر دفتر (OHCHR)، «چوپتیا تاوتریخوالی دی: په افغانستان کې له ښځو سره ناوړه چلند ته د پای ټکی کېږدئ،» (یوناما: ۲۰۰۹). http://goo.gl/yPUwMA

۲ ناتالي ګایته، «نارینتوب، نارینه تعریفوي، نه د دې پرخلاف - ولې د «نارینتوب» په تړاو لانجه ډېره مهمه ده»، هافتینګتون پست، ۲۰۱۳، http://goo.gl/q787Fj (د ۲۰۱۵ ز. کال د جولای پر ۱۲ مه ورته لاسرسی شوی دی).

## جنسيتي برابروالي د شريکانو په توګه د نارينه وو او ځوانو هلکانو د ښکېلتيا مفاهيم

۱. په افغانستان کې پر ټولو قوانينو بياکتنه، ترڅو پر يو شمېر اړوندو نړيوالو هوکړه ليکونو لکه د پاېښت لرونکې پرمختيايي اهدافو، د ښځو په وړاندې د تبعيض د مخنيوي کنوانسيون، د بيجينګ د عمل مجمع، د ماشومانو د حقونو په تړاو کنوانسيون او نورو تړونونو تمرکز ولري او ډاډ رامنځته شي، چې دغه قوانين د ښځو په وړاندې له تاوتريخوالو ډکو کړنې. چلندونو په شان جنسيتي موضوعاتو او په بدو[3] او بدل کې[4] د ورکړې په ډول د زيانمنونکو ښځو او نجونو په برخه کې په روښانه توګه ځواب ويونکي دي.

۲. اړتيا ده، چې د اسلامي مفاهيمو پر بنسټ د ټولنيز عدالت يو شرعي بحث، چې د ښځو ګټې خوندي کوي، لکه برابروالي او په کوردننه او په ټولنې پورې اړوند مشرتابه (رهبريت) کې د ښځو د فرصتونو برابروالي په اړه، په لاره واچول شي. همدارنګه د دې اړتيا شته، چې په افغان نارينتوب کې د ښځو په تړاو موجود سپکاوي ته د پای ټکی کېښودل شي؛ د دغه سپکاوي يوه بېلګه په دري ژبه کې «زنچو»[5]او په پښتو کې «نرښځې» يا «نرشځې» د هغو نارينه وو لپاره کارول کېږي، چې په کور کې د ښځو چارې او دنده ترسره کوي.

۳. يوه بله اړتيا دا ده، چې د قبيلوي قوانينو او دودونو په تړاو بايد د کورنۍ په قانون کې بياکتنه وشي، ترڅو په افغان نارينتوب کې له هغو نغښتي خطرناکو کړنلارو سره مبارزه وشي، چې يوه ښځه له دې پرته، چې له خپلې اړيکې وشلوي، نه شي کولی د مېراث غوښتنه او ادعا وکړي. دا هغه څه دی، چې د څېړنې په موندنو کې انعکاس موندلی او د دې څرګندوی دی، چې که چېرې يوه ښځه له خپلو اړوندو نارينه وو څخه د مېراث غوښتنه وکړي، نو دغه چاره کېدای شي په کورنۍ د درز د رامنځته کېدو لامل شي.

## عملي او پلان شوې مداخله

۱. د دغې څېړنې د پايلو د خپرېدو اړتيا، چې په جنسيتي نابرابروالي پورې اړوندو مسلو او د ښځو په وړاندې پر جنسيت ولاړ تاوتريخوالو ته، چې د نارينتوب د سخت اړخ زېږنده ده، د رسېدنې په برخه کې، پاليسي جوړوونکو ته لارښوونه وکړي.

۲. د دې اړتيا ده، چې نارينه او هلکان د نارينتوب په هغو ښو کړنلارو ښکېل کړای شي، چې په افغانستان يوه نوې پرمختيايي ټولګه ده. د هر نوي ماموريت تر طرح وړاندې دا به ګټور وي، چې هغه ورته کړنلارې وپېژندل شي، چې په بريالي توګه د نړۍ په هغو هېوادونو کې پلي شوې، چې افغانستان ته ورته شرايط لري؛ لکه: پاکستان، بنګله دېش او هند. د ښو کړنلارو يوه ټولګه کولی شي په افغانستان کې له نورو ورته پروګرامونو سره مرسته وکړي. دولتي او نادولتي موسسې دواړه کولی شي، د غې ټولګې، د پروسو د تصويب او څېړلو يوه برخه وګرځوي.

۳. د دې اړتيا شته، چې د نارينه وو او هلکانو د لېد او چلند د بدلون لپاره مناسب پروګرامونه، چې هغه همدا راز بايد د باور جوړونې او پرځان باورۍ د زياتوالي په برخه کې له نجونو او ښځو سره د مرستې ارزښت په ګوته کړي، پيل شي. دغه پروګرامونه بايد داسې ډيزاين شي، چې په سيمه ييزه او ولايتي کچه دواړو کې د نارينتوب «هژمونيک» او کليشه يي تفکر او انګېرنه له منځه يوسي. هر پروګرام کېدای شي، د ټولنيزو خبرواترو، سيمينارونو، کنفرانسونو، د پوهاوي ناستو، روزنو او مقاله ليکلو لړيو له لارې ترسره شي او د اړيکو مناسبو شبکو لکه (راډيو، تلويزيون، ورځپاڼو، پوسترونو، لوحو، انځورونو، د سړک پر سر تياترو او ټيليفون) له لارې د هغو پيغامونو خپراوي، چې د کور په دننه چارو کې د نارينه وو پر مساوي برخه اخيستنه تمرکز او ټينګار لري؛ دغه پيغامونه کولی شي، د قرآنکريم او احاديثو د لارښوونو په رڼا کې وي.

۴. اړتيا ليدل کېږي، چې يو روزنيز پروګرام پيل شي، چې د هم سيالو نارينه وو او د موډل جوړونې ونډې د واک اهرم په اعتبار ترسيم او د متنوعو اړتياوو د پوره کېدو په برخه کې انعطاف رامنځته کړي. د سيالانو روزنه، کولی شي له ځوانانو او نارينه وو سره د روغتيايي پرېکړو د ترسره کولو لپاره د مثبت ژوندانه د لېوالتياوو په پرمختيا کې مرسته وکړي. دغه پروګرام کولی شي، د ښوونځيو، د لوړو زده کړو مرکزونو، پوهنتونونو او ديني ښوونيزو مرکزونو او مدرسو لپاره طرح او چمتو شي. د نارينه وو او هلکانو دغه غوره کړای شوې ډلې، کولی شي، د هم سيالو مربيانو او د جنسيتي برابروالي د فعالانو په توګه تر روزنې لاندې ونيول شي.

---

۳ يوه دوديزه «کړه وړه ده» چې پر بنسټ يې له مجرمې کورنۍ څخه يوه نجلۍ د زيانمنې او قرباني شوې کورنۍ له يوه نارينه سره ودېږي، ترڅو د وينو بيه پوره او د ستونزه حل شي. ځينې وختونه بد په داسې حال کې له ټولنيز اړخه د منلو وړ ګڼل کېږي، چې يوه ځوانه نجلۍ له يو هلک سره تېښتې، چې د محدوديتونو له امله له هغه سره واده نه شي کولی. په دې حالت کې د هلک کورنۍ بايد د کورنۍ يوه ځوانه غړې د نجلۍ کورنۍ ته د موضوع د حل لپاره ورکړي. «که څه هم داسې چاره د افغاني قوانينو پر بنسټ ناقانونه ګڼل کېږي، خو بد په ټول هېواد کې د ټولنو په منځ کې رواج لري.

۴ .بدل «د ودونو يوه بېله بڼه ده، چې کورنۍ خپلې لوڼې ډېرى وخت د دې لپاره سره بدلوي، ترڅو د ناوې د ولور له پوره کولو څخه ځانونه وژغوري».

۵ . هغه نارينه ته ويل کېږي، چې داسې کړه وړه ترسره کوي، چې له ښځو سره مناسبه ده. (د افغانستان په چاپېريال کې) هغه نارينه، چې د کار په کارونو کې مرسته کوي، واقعي نارينه نه ګڼل کېږي؛ ځکه چې دغه چاره د هغه نارينتوب راکموي.

۵. د دې اړتیا شته، ترڅو د هغو نارینه وو او هلکانو لپاره یو ټولنیز اروایي پروګرام جوړ شي، چې د ښځو او نجونو په پرتله د ورته ناروغیو له امله د مړینې کچه یې لوړه ده. د دغه څه یو لامل، د نارینه وو او هلکانو لپاره د نارینتوب ټینګ او جدي ځانګړتیاوې او ټولنیزو دودونه دي. نارینه د دې اجازه نه لري، چې وژاړي او یا ویر ښکاره کړي، چې دغه چاره ښایي اروایي او عاطفي اغیزې له ځانه سره ولري. د دې اړتیا شته، هلکان او ځوان نارینه پر دې قادر کړای شي، چې د مسلکي سلامشورو او اروایي درملنو د خدمتونو له لارې، چې د تاوتریخوالو او سختو چلندونو لاملونه په ډاګه کوي، د نارینتوب ټینګو ځانګړتیاوو ته د پای ټکی کېږدي. د دغه پروګرام له لارې نارینه او هلکان کولی شي، د غوسې او پرېشانیو او اندېښنو مدیریت، بې تاوتریخوالو اړیکو او د عاطفي او اروایي روغتیا مهارتونه ترلاسه کړي. دا له دې سره مستقیمه اړیکه لري، چې له پلارواکۍ او پر جنسیت ولاړ تاوتریخوالي سره چلند وشي. د دې لپاره، چې له کورنیو او ټولنیزو تاوتریخوالو، ځورونو او له واک څخه د ناوړې ګټه اخیستنې مخنیوی وشي، نو د نارینه وو لپاره د ټولنیز – فرهنګي اروایي روغتیا پروګرامونه اړین ګڼل کېږي.

۶. د دې اړتیا شته، چې د نارینتوب د له منځه وړلو لپاره، په تعریف شویو موخو سره د همفکرو سازمانونو له خوا د ملي نارینتوب یو ایتلاف رامنځته شي، د راتلونکو پلرونو په توګه د ماشومانو ژوند ته مسیر او ښه وټاکل شي، او هلکان د بې تاوتریخوالو پلرونو، وروڼو او مشرانو په توګه وروزول شي. دغه ایتلاف کولی شي، په دې برخه کې ټاکلی دولتي ملاتړ او دستور، چې د مور او ماشوم روغتیا او د جنسي او زېږون د روغتیا او حقونو ته په پوره پاملرنې سره د پلارتوب په برخه کې د نارینه ونډه هڅوي، مدیریت کړي.

۷. د دې اړتیا ده، چې د ملي اجنډا د یوې برخې په توګه، د نارینه وو او هلکانو د ښکېلتیاوو یو بشپړ پروګرام پیل شي. له هغه ځایه، چې زیاتره کورني او نړیوال مرستندویان، د ښځې په ځواکمنتیا پورې اړوندو نوښتونو باندې پانګونه کوي، نو د دې اړتیا ده، چې د پرمختیایي سکتور په دننه یوه ډېره جامعه کړنلاره ترلاس لاندې ونیول شي. مرستندویان، باید د نجونو او ښځو لپاره د مساعد چاپېریال د رامنځته کېدو په برخه کې د نارینه وو او هلکانو د ښکېلتیا او ونډه اخیستنې، او د جنسیتي برابروالي او ټولنیز عدالت د تامین لپاره د بشپړو پروګرامونو د پرمختیا په لاره کې سرچینې ځانګړې کړي. دغه چاره باید په قوانینو او تګلارو کې بدلونونه هم په بر کې ونیسي. دا به ښایي د مرستندویانو ترمنځ د همکاریو کچه زیاته پراخه کړي.

۸. داسې پروګرامونه دې جوړ شي، چې د نارینتوب هغه مفهوم، چې د جنیستي نابرابروالي او د ښځو او ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي لپاره زمینه برابروي، له منځه ولاړ شي. دغه چاره د مدني ټولنو او حکومتي ادارو، په تېره بیا د ښځو چارو وزارت او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت(MoIC) ترمنځ د همغږۍ په پایله کې ترسره کېدای شي. په یادو پروګرامونو کې او د ژوند په مهارتونو ولاړې زده کړې (یا بشپړه جنسیتي زده کړې) کې باید د شریکانو په توګه ښځې او نارینه دواړه ښکېل کړای شي، ترڅو د نارینتوب هغه مفاهیم، چیرې چې نارینه احساس کوي، چې د جنسیت ټولنیزې هیلې (توقعات) یې نه دي پرځای شوي، حل کړي. د دغه پروګرواومونو پلیتابه به کورنۍ تاوتریخوالی د نه منلو وړ چاره وګرځوي.

۹. د ښوونځیو، لوړو زده کړو موسسو او پوهنتونونو په ښوونیز نصاب (د پوهنې وزارت او لوړو زده کړو وزارت) کې د داسې نوښتګرو پروګرامونو ځای پرځای کول، چې د نارینه وو او ښځو ونډه بیا تعریف کړي. په دغه نوي تعریف کې باید د ښځو د رهبرۍ مسله او د ماشومانو حقوق په داسې ډول شامل کړای شي، چې ټول هغه دودیز باورونه او نظریې له منځه ولاړې شي، چې د جنسیتي نابرابروالي او تاوتریخوالي لامل ګرځي. په ښوونیز نصاب کې باید د ښوونکو، پلرونو میندو او زده کوونکو لپاره د جنسیت په اړه داسې جوړښتونه رامنځته شي، چې هغوی د جنسیتي برابروالي په رښتینۍ معنا پوه شي. علمي موسسې، تحصیلي او تعلیمي درسي پروګرامونه او ښوونکي، د ماشومانو د ژوندانه بهیر کړنلارې او ښه ټاکي. ښوونکي، د خپل ژوندانه د تجربو، ورځنیو بېلګو او درسي برنامو له لارې، په غیر شعوري توګه د نارینتوب دودیز مفاهیم پیاوړي کوي.

۱۰. د ډله ییزو رسنیو او ټولنیزو شبکو له ځواک څخه باید ګټه واخیستل شي، ترڅو د ځوانو وګړو لپاره د نارینتوب د هغو مفاهمیو په تړاو، چې د جنسیتي برابروالي لامل ګرځي، پوهاوی رامنځته شي. د عامه خدمتونو په چوکاټ کې د اطلاعاتو او فرهنګ او د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارتونو تر مدیریت او د خصوصي موسسو او مدني ټولنو په مرسته، د موبایل ټیلفون د کمپنیو له خوا، باید په جنسیتي برابروالي پورې اړوند ګټور او مشورتي پیغامونه عامو خلکو ته ورسول شي. د دې اړتیا ده، د چاپي، برېښنایي، ټولنیزو او انټرنیټي ر سنیو او د ډرامه یي فعالانو په ګډون، یوه رسنیزه روزنه، چې د نارینتوب لیدلوری او مفهوم درک کوي، وړاندې شي. تر ټولو ښه جایزه باید هغو کسانو ته ورکړل شي، چې مستند جوړوي، او لنډه کیسه، کتاب، کیسې لیکي، فیلم او ډرامه جوړوي، ترڅو په افغانستان کې د نارینتوب دودیزې انګیرنې د له منځه وړلو په برخه کې مرسته وکړي.

۱۱. د افغاني ټولنو په دودیز جوړښت کې، په نارینه جنسیتي معیارونو او ارزښتونو کې د بدلون په موخه، د سیمه ییزو عمده فعالینو ښکېلتیا اړینه موضوع ده. په دغو فعالینو کې کلیوالي ملکان، د ګذر وکیلان، مذهبي مشران، ښوونکي او د ټولنې او ځوانانو شوراګانې شاملې دي، چې د تصمیم نیونې په برخه کې کره ونډه لري. په دغه موضوع کې د یادو خلکو ښکېلتیا په ټولنو کې د عادلانه جنسیتي اړیکو د رامنځته کېدو لپاره ډېره اساسي خبره ده. د یادو پروګرامونو او پروژو د تحقق لپاره باید نارینه د جنسیت د برابروالي د یوه اړخ په توګه ښکېل کړای شي. روحانیون، د جوماتونو ملاامامان او پوهان، چې کېدای شي، د جنسیتي دریځونو په برخه کې اغېزمن وګڼل شي، باید د حج او اوقافو وزارت له خوا جذب شي. دا به ډېره غوره وي، چې د نارینه وو له خوا نارینه وو ته وویل شي، چې په دې برخه کې بدلون ومني؛ او د دغه بدلون ګټې او لاملونه یو بل ته تشریح کړي. همدارنګه د نارینه وو او ښځو لپاره د دې فرصتونه برابر شي، چې په دې اړه خبرې او بحث وکړي، چې افغان نارینتوب څرنګه د ټولنیزو فشارونو په پایله د نارینه وو هوساینه او روغتیا اغېزمنه کړې ده.

## وړاندیزونه

۱. دغه څېړنه پر هغو لاملونو، چې د کورنۍ تاوتریخوالي په اړه د نارینه وو او ښځو له خوا وړاندې کېږي، یو څه رڼا اچوي، خو راتلونکې بشپړې څېړنې د دې لپاره اړینې دي، چې پر جنسیت د ولاړو تاوتریخوالو بېلابېل ډولونه او محرک عوامل یې وڅېړي.

۲. په دې برخه کې له مشارکتي او په جنسیت پورې حساس څېړندود څخه کار اخیستنه به ډېره اغېزمنه او ګټوره وي. همدارنګه پر افغان جنسیتي پالیسیو باید د لویدیځ پوځي ښکېلتیا اغیزې او همدا ډول د پورتنۍ مسلې په تړاو د نارینه وو د غبرګون په برخه کې، یوه ژوره څېړنه ترسره شي.

۳. د دې اړتیا لیدل کېږي، چې افغان نارینتوب د «جنسي او زېږون د روغتیا او حقونو» له موضوع سره جوخت د دواړو نارینه وو او ښځو له لیده تر څېړنې لاندې ونیول شي، د بېلګې په توګه روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي په برخه کې کومې اړتیاوې، موضوعات، محسوسې ستونزې او خنډونه موجود دي؛ او د کورنۍ چارو د تنظیم په برخه کې د نارینه وو مرسته او ونډه څه ده؟ د ځوانانو ترمنځ «د سیالانو څېړنه» بله کړنلاره ده، چې په راتلونکو څېړنو کې کېدای شي، د هغو کسانو له خوا د ګټه اخیستنې وړ وګرځي، چې په یوه امنه فضا کې، د نظرونو د تبادلې لپاره، د «جنسي او زېږون روغتیا او حقونو»، «د جنسیت پربنسټ ولاړو تاوتریخوالو» او «جنسي تاوتریخوالو» پورې اړوندو مسلو د څېړلو لېوالتیا لري.

۴. په ټولیزه توګه، دا د پالیسي او پلان جوړوونکو، مدني ټولنې سازمانونو، ټولنو او ډونرانو ګډ مسوولیت دی، چې پر نارینه وو او هلکانو او د جنسیت برابروالي په تړاو د دوی د چلندونو او لیدلورو پر تغییر پانګونه وکړي.

## مأخذ


Natalie Gyte, "'Masculinity Defines Men, Rather Than the Reverse' - Why the 'Masculinity' Debate Is So Important,"

The Huffington Post, 2013. Retrieved from http://goo.gl/q787Fj (accessed 12 July 2015). UN Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), and Office of the UN High Commissioner for Human Rights (OHCHR).

"Silence Is Violence End the Abuse of Women in Afghanistan," UNAMA, 2009.Retrieved fromhttp://goo.gl/VgOiUM (accessed 22 April 2016).



### د لیکوالانو په اړه

لیا ویلفریداری پیلانګو (په ټولنیزو علومو کې ماستري لري) د افغانستان د څېړنې او ارزونې په واحدکې څېړونکې او د ډونر همغږې کوونکې ده، د فلپین د بهول پوهنتون د څېړنو څانګې مشره او د سویلي اسیا هېوادونو لپاره مشاوره ده.

چونا آر. اچاویز (په انسان پېژندنه کې دوکتورا لري) اوسمهال د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد موقتي مشره ده، د جنسیت کارپوهه او په اسیا پاسفیک او سویلي اسیا په سیمو کې د سلاکارۍ په توګه دنده ترسره کړې ده.

پرویزطفیل (په ارواپوهنه کې ماستري لري) د افغانستان لپاره د سویډن کمېټې د بشر حقونو د څانګې مشر او د پروګرام د پرمختیا، څارنې او روزنې له تخصص سره د بشرحقوقو او جنسیت کارپوه دی.

سید مهدي موسوي (په ټولنیزو علومو او ټولنیزو څېړنو کې ماستري لري) د افغانستان د څېړنې او ارزونې په واحد کې د جنست څېړنو د څانګې لوی څېړونکی دی، چې د ترکیې په جاجتپه پوهنتون کې د دوکتورا دورې ته کاندید دی.



ISBN ۹۷۸ -۹۹۳۶-۶۲۸-۱۰-۶ (بریښنایي نسخه)

ISBN 978-9936-628-10-6